آصف بهاند

# د لوږې سونامي

## دولسمه برخه

### د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي

### اوه څلویښتمه برخه

«څوک چې ډوډۍ غواړي، بغارې دې ووهي!
څوک چې واښه غواړي، رمباړې دې ووهي!»

(محب زغم)



«د لوږې سونامي» د مقالو په دې لړۍ کې څو ځلې وويل شول چې، د لوږې سونامي په افغانستان کې پر افغانانو باندې دومره زور اخيستى دى چې خبره د بشري ناورين تر بريده پورې رسېدلې ده. ميډيا هره ورځ د خطر زنګونه کرنګوي او داسې نوې رپوټونه خپروي چې په لوستلو او ليدلو يې پر بدن باندې ويښته سيخېږي، خو مسؤلينو غوږونه کاڼه کړي دي او د خپلو پاليسيو د تطبيق په لټه کې دي، د نړيوالو مرستې به هم تر چا پورې څومره ورسېږي؟

بیا یې په تکرار سره وایم په د لوږې سونامي په بادونو کې تر ټولو ډېر خطر ماشومانو، کوچنیانو او حامله مېرمنو ته ورپېښېږي. څو ورځې مخکې بي بي سي پښتو د «د لوږې ځپلیو افغان ماشومانو ژغورنه؛ دا ځای دوزخ ته ورته دی» ترسرلیک لاندې یو رپوټ خپور کړ، د رپوټ په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«"ځوانې ښځې چیغې وهلې. ډاکترانو ته یې ویل، چې دا او ماشوم یې باید دواړه ووژل شي. "
په مرکزي افغانستان کې ډاکترې نوري د جراحي عملیاتو له لارې د ماشوم زېږون پر چارو بوخته وه، چې په وینا یې مېندوارې ښځې ورته وویل:

"نه پوهېږم څنګه به ژوندۍ پاتې شم او څنګه به وکولای شم چې بل انسان وزېږوم. "
د ډاکتر نوري په روغتون کې دا او دې ته ورته نورې ښځې دومره خوار ځواکه دي، چې پوهېږي که ماشوم یې وزیږي، د خوراک لپاره به یې د دوی په بدن کې پۍ نه وي.

ډاکتره نوري وایي، په زېږنتون کې دومره ګڼه ګوڼه ده، چې مېندوارې ښځې د زېږون لپاره په وینو ککړو کټونو کې څملي او یا همالته د خونې پر غولي کېناستو ته اړې دي.

داسې هم کېږي، چې په یوه کټ کې په یوه وخت دوې، یا درې ښځې څملي.
دا وایي، صفاکارې ښځې تر میاشتو پورې له بې معاشه کار وروسته بالاخره دندې پرېښولو ته اړې شوې دي.

د مرکزي افغانستان دې روغتون په شاوخوا کې شخصي کلینکونه له مخکې تړل شوي دي او اوس په دې یوازیني روغتون کې چې یو وخت له ډېرو معتبرو روغتیایي مرکزونو یو و، د پخوا پرتله څو چنده ګڼه ګوڼه ډېره شوې ده.

د نسایي، ولادي دا متخصصه ډاکتره وایي، "د هر روغتون زېږنتون تر ټولو د خوښۍ ځای وي، خو په افغانستان کې اوس داسې نه ده. "

ډاکتره نوري وایي، د سپتمبر په یوازې دوو اونیو کې یې خپل روغتون کې پنځه نوي ماشومان ولیدل چې د لوږې له کبله مړه شول.

دا زیاتوي:

"دا ځای دوزخ ته ورته دی...

د ملګرو ملتونو مسوولینو په وینا د دې مانا دا شوه، چې افغانان د ریکارډونو ثبت له پیله راهیسې تر ټولو سخته لوږه ګالي.

دا شمېرې ښیي چې سږ ژمی به نژدې ۱۴ میلیونه افغان ماشومان کافي خواړه و نه لري.
پلازمېنه کابل کې بیا د ماشومانو یو لوی روغتون روغتیاپالان چې د خپل روغتون د وړتیا پرتله یو نیم برابر ډېر کار کوي، دا وروستیو کې یې د خوارځواکۍ له کبله د ګڼ شمېر ماشومانو درملنه کړې.

د دې روغتون مشر ډاکټر صدیقي په سپتمبر کې د مرستو له بندیدو وروسته ګڼ شمېر ماشومان لیدلي چې د لوږې، یا د لوږې له لاسه د ناسمو خوړو له کبله ناروغان شوي او وروسته مړه شوي دي...»



یونیسف د افغانستان د لوږې او بشري بحران د مخنیوي له پاره څو ځلې د مرستو غوښتنه کړې ده، خو دا ځل یې د افغانستان له پاره تر ټولو ډېره مرسته غوښتې ده. په دې هکله د بي بي سي په یوه رپوټ کې داسې راغلي دي:

**«یونېسف د افغانستان لپاره 'د بل هر وخت پرتله د زیاتو' مرستو غوښتنه وکړه**

په ملګرو ملتونو سازمان کې د ماشومانو ملاتړ اداري یونېسف په خپل تاریخ کې د یوه هېواد لپاره د بل هر وخت پرتله د زیاتې مرستې غوښتنه کړې ده.

یونېسف په یوه اعلامیه کې ویلي، له ۲۴ میلیونه افغانانو سره یې چې نژدې نیمایي یې ماشومان دي، د بشري مرستو لپاره د دوه میلیاردو ډالرو بسپنې غوښتنه کړې ده.

یونېسف مسوولین اټکل کوي چې مناسبو خوړو، پاکو اوبو او د نظافت کافي وسایلو ته د نه لاسرسي له کبله به ۲۰۲۲ کال له هرو دوو افغان ماشومانو یو په خوار ځواکۍ اخته وي.

یونېسف مسوولین هیله من دي چې د مرستې دغه دوه میلیارده ډالر به په افغانستان کې د ماشومانو او کورنیو لپاره د روغتیا، خوراک، نظافت او زدکړو برخو کې د خدمتونو لړۍ له سملاسي ویجاړېدو وژغوري.

د افغانستان لپاره د یونېسف استازې الیک اکونګا په دې هکله په یوه پیغام کې وویل:

"په افغانستان کې اوسنی بشري وضعیت په ځانګړي ډول د ماشومانو لپاره سخت اندېښمنونکی دی. ژمی وار له مخه رارسېدلی دی او له اضافي مالي مرستو پرته به یونېسف او مرستندویه ادارې و نه. توانېږي هغو ماشومانو او کورنیو ته د (مرستې) لپاره ورسېږي، چې موږ ته تر بل هر چا زیات اړ دي. "

د ملګرو ملتونو دا چارواکي وېره څرګندوي چې دا مهال میلیونونه افغان ماشومان د لوږې او ان مړینې له خطر سره مخامخ دي.

نوموړې زیاتوي دوی هڅه کوي چې له هرې شونې لارې له هغو افغان ماشومانو سره مرستې وکړې چې د هېواد په ښوونځیو کې د څښاک پاکو اوبو او نظافت نشتوالي له کبله د تاوتریخوالي له خطر سره مخامخ دي.

د یادونې ده، چې تېره اونۍ نړیوال بانک کې د افغانستان بیا رغاونې صندوق 'اې ار ټي ایف ' په افغانستان کې د بشري ناورین مخنیوي لپاره په دې ځانګه کې د افغانستان له یو اعشاریه پنځه میلیارده کنګل شوې شتمنۍ د ۲۸۰ میلیونو ډالرو خوشې کول تایید کړل.

د سرچینو له قوله ویل شوي و، چې دا ۲۸۰ میلیونه ډالر به د خوړو نړیوال سازمان او د ماشومانو ملاتړ لپاره د ملګرو ملتونو ادارې یونېسف ته په افغانستان کې د بشري مرستو لپاره ورکړل شي.»

په همدې نږدې تېرو ورځو کې دا د میډیا ځو هغه سرلیکونه دي چې د لوږې د سونامي اخطاریه چیغې جګوي، خو چېرې د اورېدو غوږونه:

بي بي سي پښتو:

«د کړکېچ نړیواله ډله: که پر افغانستان لګېدلي محدودیتونه لېرې نه شي ښایي، یو میلیون وګړي له لوږې او یخنۍ مړه شي.»

بي بي سي فارسي:

«اینجا مثل جهنم است'؛ مبارزه برای نجات نوزادان گرسنه در افغانستان»

تاند :

«د بحران نړیواله ډله: بشري ناورین او ژمی ممکن یو میلیون افغانان تلف کړي»

بي بي پښتو:

«ملګري ملتونه: له افغانانو سره مرسته کوونکي خورا لږ وخت لري»

ازادي راډیو:

میلیون‌ها کودک در افغانستان در معرض خطر بدترین بحران غذایی

د لوږې خطر یوازې له جګړې سره نه دی غوټه شوی، لوږه داسې بلا ده چې په تدریجي ډول خلک له منځه وړي لومړي له رواني پلوه خلک ځپي، بیا یې په خوارځواکي اخته کوي او بیا یې په ارامه ډول د ګور تیارو ته ورپورې وهي.

د لوږې سونامي او بیوزلي د مخنیوي له پاره که عملي کار ونه شي، دومره خلک به له منځه ولاړ شي چې په دوو تېرو لسیزو کې به جګړې دومره خلک نه وي خوړلي.

له بده شامته چې مسؤلین د خیر پر غونډۍ باندې ناست دي، د خپلو برياوو په مزو یې خوله خوږه ده او نه یوازې د خلکو د ستونزو په فکر کې نه دي، بلکې داسې یو څه تر خولې راباسي چې نه د خدای پر قانون برابر دي او نه د بندګانو. د لوږې، قحطۍ او په وطن باندې د روان ناورین په باب، په کابل کې یو ناست لوړ پوړې چارواکي داسې یو څه ویلي دي چې د نه منلو دي:

**«له لوږې څوک نه مري، خدای په وښو هم انسان ژوندی ساتي»**

اوس نو خبره تر وښو خوړو پورې هم ورسېده. قحطي تر دې اندازې زیاته شوه چې پر افغانستان باندې واکمن حاکمان د دې پر ځای چې د قحطۍ د مخنیوي او د لوږې سونامۍ د مخنیوي له پاره د لارچارو په فکر کې شي، وايي چې له لوږې څوک نه مري ، که اړتیا وه نو د وښو خوراک ته دې مخه کړي.

خو دا ښاغلي به په دې هم نه وي خبر چې د وچکالۍ په وجه ښايي د خوراک له پاره واښه هم پیدا نه شي. د دې نظریې په چوکاټ کې د انسانیت عالي مقام د حیوانیت پوړۍ ته راټیټ کړای شوی دی.

دا واکدار له یوې نړیوالې رسنۍ سره په مرکه کې په ویاړ سره وايي چې خلک دې واښه وخوري. د ده د خبرو باب د تاند رپوټ داسې دی:

«تاند:( سې شنبه ، د قوس درویشتمه)د طالبانو د حقاني شبکې یو لوړ پوړی غړی انس حقاني په افغانستان کې د بحران تر سطحې په افغانستان کې د فقر او لوږې موضوع بې ځایه تبلیغات ګڼي.

هغه بي بي سي ټلويزيون ته د مرکې پر مهال ویلي، چې روزي ورکوونکی خدای دی او ده په ژوند کې کله هم نه دي لیدلي، چې څوک د لوږې له کبله مړ شوی وي.

انس حقاني دا هم وویل، چې خدای تعالی انسان ته روزي په هر ډول رسوي، ان په وښو خوړلو یې ژوندی ساتي.

انس حقاني دا مرکه له یوې انګلیسي ژبې خبریالې سره کړې، خو ښاغلي حقاني په پښتو ژبه خبرې کړې دي.

دا مرکه بي بي سي فارسي ټلويزيون هم ژباړلې او خپره کړې، خو هغه جمله يې نه ده ژباړلې چې انس حقاني پکې په وښو خوړلو هم د خدای تعالی لخوا د انسانانو د ژوندي ساتلو خبره کوي.

په دې مرکه کې انس حقاني ادعا کړې، چې دوی د فقر ختمولو په طريقو او د هغه په خپله اصطلاح په (چل) پوهيږي.

ښاغلي حقاني د دغه (چل) په اړه نور جزييات نه دي ورکړي.

له پرځول شوي جمهوري نظام سره د طالبانو د مذاکراتي پلاوي دغه غړي په خپله دې مرکه کې دا هم وويل چې طالبانو په تېره ۲۰ کلنه جګړه کې له لوږې سره کافي بلدتيا پيدا کړې او ورته عادي خبره ده.

د ده په وينا، د طالبانو د مشرتابه له څو محدودو کسانو پرته، چې په تېره ۲۰ کلنه جګړه کې يې له پينځو تر لسو زرو افغانيو معاشونه اخيستل، نور ټول طالبان له کوم معاش او امتياز پرته جنګيدل.

ښاغلي حقاني ونه ويل، چې همدا محدود معاش، د پراخې جګړې تجهيزات او لګښتونه دوی له کومه کول او له خپلو کورنيو سره يې څه خوړل او څښل؟

همدا پوښتنې څو ورځې مخکې د افغانستان يوې سياستوالې شکريه بارکزۍ د طالبانو له وياند ذبيح الله مجاهد څخه په يوه ويډيويي بحث کې وکړې، خو ښاغلي مجاهد کوم روښانه ځواب ورنه کړ.

د يادونې وړ ده، چې په افغانستان کې د وروستي پاچا محمد ظاهر شاه يوې لور ته منسوبه کيسه، چې د فقر اړوند ده، له پخوا څخه د خلکو تر منځ ويل کيږي.

خلک وايي، چې د لوږې او قحطۍ له کبله پاچا سودايي و او د غنمو کمښت ته يې فکر کاوه، خو لور يې د ډاډګيرنې په توګه ورته وويل، چې خلک دې د ډوډۍ پر ځای کلچې وخوري.

د انس حقاني د خبرو پيغام نه دی روښانه شوی، چې هغه خو به ۲۴ ميليونه فقر ځپلي او نور افغانان وښو خوړلو ته نه هڅوي؟»

د کابل ميشتو نوو واکدارانو د نوو څرګندونو پر بنا، په فيسبوک کې د ځينو قلموالو زړه تنګ شوی او مجبوراً يې د طنز په چوکاټ کې ليکلي دي چې:

«څوک چې ډوډۍ غواړي، بغارې دې ووهي!
څوک چې واښه غواړي، رمباړې دې ووهي!»

(محب زغم)

د نويو واکدارانو امر ته فولکلور داسې طنز ډوله ځواب ويلی دی:

ستا فرمایش و ما پوره کړ
دا وچ واښه په ژمي چا خوړلي دينه



داسې ښکاري چې نور نو واکدارانو ته د مرستې لاس غځول او له هغوی د تمه لرل، ګټه نه کوي، هر څوک باید خپل غم په خپله وخوري او بیا هم له بده شامته چې ډېر سلنه خلک اوس رنګارنګ ستونزو، په تېره له جګړو رازېږېدولو ستونزو او د لوږې سونامې ستونزو داسې ګنګس کړي دي چې لار ورنه ورکه ده او په چاره کولو څه چې په ښکته پورته نه پوهېږي چې پر کوم لوري ولاړ شي؟